-1

د مور جانې نوم ملیکه و،

د پلار نوم یې محمد نادر خان و،


د مور جانې پلار یو ډګروال و، د وخت نظام کې .

او زما د پلار جان نوم محمد یاسین و،

او د پلار نوم یې دین محمد

چې ډېرې ځمکې او جایدادونه یې درلودل.

پلار جان په لومړي ځل مور جانه د مکتب پر لاره لیدلې وه او په مین شوی و، او کله چې پلار جان هغه وخت کې پوهه شوی و چې زموږ مور جانه په وردګو کې زموږ د ګاوند کلي ده نو بیا یې په لویه هیله او زړورتیا زموږ د نیکه کور ته د کوزدې/واده مرکه ورلیږلې وه .او په کال 1985 کې دوی دواړو واده کړی و.



2-

-2

مور جانې راډیو نیولې وه او د احمد ظاهر سندرې ته یې ژړل، موږ د کابل په کمپنۍ کې د نیکه کور کې ژوند کولو مطلب د مور جانې د پلار کور کې .د وخت حکومت چې کوم کور د کابل مکرویانو کې موږ ته راکولو د هغو اداري کارونه لا نه و ختم، مور جانې د کابل د کمپنۍ د کاریزه پر سر هم موږ ته ځمکه آخیسته وه تر څو کور ورباندې جوړ کړي خو کله چې کابل ته جهادي تنظیمونه را ننوتل نو زموږ ژوند ټول له صفر سره ضرب شو .راځم بیرته د مور جانې ژړا ته چې د احمد ظاهر سندرې ته یې ژړل .ما ور څخه وپوښتل مور جانې ولې ژاړې؟ دې راته وویل پچیه چې لوی شې پو هیږې !ما ټینګار وکړ چې راته ووایي .مورجانې راته وویل :بچیه خور او ورور د کاکا/تره وردګو ته د څو شپو لپاره بوتلل او ماته یې وویل چې لس ورځې وروسته یې بیرته راولي خو اوس یوه میاشت پوره شوه او تر اوسه پورې ستا تره/کاکا دوی را نه وستل .ما بیا وپوښتل :چې کاکا ولې داسې کوي؟ مور جانې وویل تره د غواړي چې ما واده کړي خو زه نه غواړم چې میړه وکړم .ما بیا ورڅخه وپوښتل څنګه؟ مور جانې وویل بچیه شپږ میاشتې مخکې چې وردګو ته تللي و، تره د ماته خلک پیدا کړي و او غوښتل یې د نیمې شپې ما دوی ته په لاس ورکړي خو تره او د ده کورنۍ په دې کار کې بریالي نشول ځکه چې ستا د تره مشرې ښځې له ما سره معلومات شریک کړل او زه یوه ورځ مخکې له تاسو سره یو ځای له کلي څخه ووتلم اوس هم ستا تره ستا خور او ورور په دې دلیل له وردګو بیرته نه راولي چې زه او ته ورپس ورشو، بیا ما د نیمې شپې واده کړې او تاسو له ما جلا کړي .خلص درې میاشتې تېرې شوې خو تره له وردګو زما خور او ورور را نه وستل .زه او مور جانه له کابل څخه وردګو ته ولاړو کله چې کلي ته نیږدې شو نو مور جانه ډیره بیرده ماته یې وویل بچیه که یې زه واده کړم دا په یاد ولره چې تره د زه په زوره واده کړې یم .خپل پلارنې کلا ته چې نیږدې شو نو خپل خور او ورور مو ولیدل چې خاورو کې بازۍ کوي او مخونه یې خیرن خیرن او لاس او پښې یې چاودې چاودې دي .مور جانې په ژړا ژړا اوبه ګرمې کړې او زما خور او ورور یې پاک پاک پریمنځل او لاس او پښې یې ور غوړ کړل .تره نو وخته خلک پیدا کړي و چې نن د شپې

مور جانه د دوی په لاس ورکړي .دا مالومات نا وخته مازدیگر زمونږ د تره مشرې ښځې زمونږ له مور سره شریک کړي و .نو مور جانې د شپې لپاره تیاری ونیوو، چاقو سوټی او تبر، درې واړه یې زمونږ د خوب کوټې ته چې د تره مهمان خانه یادیده راوړل او د دروازو شاته یې صندوقونه کیښودل او پر دغه شپه مور جانې ما او د تره مشرې ښځې او د تره مشر ځوی مو تر سهاره لکه د سنګر جنګیالي پیره کوله .د تره کسان راغلل او تره د نیمې شپې ور ووتلو او ورته یې وویل :چې ښځه نن ډیره بیداره ده او دروازو ته یې هم تمبې آچولې نو نن کار پر مخ نه ځي سبا ته راشی.
سهار چې شو مور جانې زمونږ کالي پنډو کې ټولول چې تره مې راغلو او له مور جانې یې وپوښتل څه کیسه ده؟ مور جانې ورته وویل زه خپلو اولادو پسې راغلې وم او اوس له دوی سره یو ځای بیرته کابل ته ځم؟ تره مې مونږ ورڅخه کش کړو او زما د مور په وهلو یې پیل وکړو خو د تره مې زور ورته ونه رسیدو او د تره دوهم زوی او دوهمې میرمن هم له تره سره ملګري شول او مور جانه یې ډیره ووهله .مور جانه له کلا راووتله او د مور جانې ژړا خلک او کلیوال راټول کړل، ډیر کلیوال له جومات څخه راووتل او پر مونږ راټول شول .د تره زامنو مې یو وار زما ورور غیږ کې نیول له مور جانې یې جلا کول او یو وارې یې زما خور غیږ کې نیوله او له مور جانې یې جلا کوله .ما ځان پر مور جانه کلک نیولی و او پر ما د چا زور نه رسیدو، خلص دجومات کلیوال زما پر تره شور ماشور پیل کړ او تره مو د کلیوالو له شرمه مونږ پریښودو .
مور جانې زه له لاسه نیولی وم، زما خور یې پر شا وه او زما ورور یې پر اوږو کینولی و او پلارني کلي ته د خپلو د ترو زامنو کور ته یې ولاړو .مور جانه د ترو زامنو ته په ژړا شوه، د تره زامان هم غیرتي شول ټوپک یې را واخیستو او زمونږ کلي ته د تره کور ته ورغلل .تره مې له کور او کلي څخه تښتیدلی و او مور جانه سره د تره له زوی سره یې بیرته راغلل .
سبا ته مونږ کابل ته حرکت وکړو او تره مو له څو وسلوالو سره پر سرک ولاړ وو او ټول موټر یې تلاشي کول، مور جانې موټروان ته وویل مونږ موټر کې پټ کړه، دا خلک مونږ پسې کرځي او موټروان هم مونږ پټ کړو او مونږ سالم کابل ته ورسیدو او تره مو په دې وار خپل پلان کې بیا ناکامه شو .خو کله چې کابل وران شو او مونږ مجبوره شو چې له کابل څخه وردګو ته کډه شو تره خپل غلط پلان کې بریالی شو او مورجانه یې په زور واده کړه،

3-

مور جانې وویل بچیه ولاړ شه د باندې او وګوره چې آیا مغازې خلاصې دي ?زه را ووتلم چې ګورم لونګۍ دي، پکولونه دي، شاجورونه دي، ببر ببر سرونه او ټول د کابل ښار له بې نظمه او ځنګلي ورته وسلوالو لاس کې وو .کور ته مې را منډه کړله او مور جانې ته مې وویل :مور جانې ما اشرار خوري ټول ښار اشارارو نیولی .هغه وخت کې مونږ د کابل اوسیدونکو مجاهدینو ته اشرار ویل .بس راکټونه پیل شول او د هغو مرمیو ږغونه اوس هم زما له ذهنه څخه نه ورکیږي .چا چې پلار او یا نارینه مشر ورور درلود ټول د کابل له کمپنۍ څخه ووتل خو مونږه څوک نه درلودل او کابل کې پاتې شو .دوې هفتې مکمل مونږ درې وخته پیاز له غوړو پراټو سره خوړلې او په کور کې د زینو لاندې بیده کیدو، دلیل یې دا چې که چیرې کوم راکټ زمونږ پر کور وخورې نو امکان لري مونږ د زینو لاندې ژوندي پاتې شو .پس له څورلسو ورځو زمونږ یو ماما چې هغو وخت کې تقریبا ۱۵ یا ۱۶ کلن و، له یو موټر سره راغلو او مونږ یې له کابل څخه وردګو ته راوستو .خلص کابل جان وران او ټوټه ټوټه شو او د مور جانې د ژوند تورې شپې پیل شوې .وردګو کې نور نه د پلار جان د شهادت کوپون و، نه د پلار جان د شهادت د هرې میاشتې پیسې او بانک کې چې مور جانې کومې پیسې پس انداز کړې وې هغه هم ټولې له منځ څخه ولاړې .څو ورځې وروسته زمونږ نیکه مورجانه ور غواړي او ورته وایي : لور ماشومان د باید د لوره کره بوزې او ته هم ورسره ولاړه شې .خو مور جانه مخالفت کوي او وایې زه که چیرې د لوره کره ولاړه شم ما ودوي .نو زه هیڅکله نه ځم .پس له هغې نیکه مو مورجان مجبور وي چې مونږ سبا ته د نیا په لاس د تره کره ولیږي او سبا ته زمونږ نیا مونږ درې واړه له لاسه ونیو او زمونږ پلارني کلي ته یې د تره کور ته بوتلو .پنځلس ورځې وروسته مو کتل چې مور جانه هم راغله، مور جانه ډیره ځوریدلې وه او سترګې یې له ډیرې ژړا سرې وې .وروسته له ۲ کلونو مونږ خبر شولو چې زمونږ تره د نیکه کور ته ننواتې یا مرکه ورغلی و تر څو مونږ او مورجانه د ده کور ته ور ولیږي ترڅو دی خپل غلط هدف کې بریالی شي .تره درې مختلف کسان د مور جانې د ودیدو لپاره پیدا کړي و .لومړی کس یو کوچی و، دوهم کس یو سپینږیری و، او دریم کس یو خیاط و، چې په غوږو دروند او په یوه پښه ګوډ ګوډ په لاره تلو .تره مې دریواړه کسان په یوه شپه راغوښتي خو آخر کې هغه خیاط چې په غوږ دروند او په یوه پښه ګوډ و، بریالي شول تر څو په نیمه شپه زما مورجانه په زوره له ځانو سره بوځي .د ویستلو او زمونږ دجلا کولو کیسه بیا بله ورځ لیکم.

4_

توره شپه وه، ډیر شور ما شور و، مور جانې د تره له ښځو پوښتنه وکړه چې څه کیسه ده ?دوی ځواب ورکړو چې قرضداران راغلي او خپل قرض غواړي او له ځان سره یې وسلې او خلک هم راوستي دي .مونږ په کوټه کې بیده و، مور جانه منځ کې بیده وه، ورور او خور مې د دې دواړو بغلو ته بیده و، او زه مې د ورور بغل ته بیده وم چې یو دم ناڅاپه یو سپین ږیری کس زمونږ له تره سره کوټې ته راننوتل او مورجانې ته یې وویل نوی کور د مبارک شه !مور جانې په ژړا او

چيغو پيل وکړ او موږ ټول راويښ شولو ، مور جانې زه له لاسه کلک ونيولم او کش يې کړم او راته يې وويل نصيره تره د ما په زوره ودوي په ياد ولره !مورجانې زموږ تره ته وويل د ياسين) زموږ شهيد پلار جان (قبر ته وګوره دا کار مه کوه زه ميړه نه کوم .تره مو ځواب کې ورته وويل چې د ياسين قبر باندې اوس بوټي را شنه دي .د تره دا خبر زما هيڅکله زما له ذهن څخه نه وځي .خلص مورجانې او موږ درې واړو ډير وژړل او ډيرې چيغې مو وکړې خو افغان غلط دود زموږ ږغ نه آوريدو او آخر کې هغه سپينږيري کس چې د مور حانې خسر و او زما تره مور جانه يې له لاسو او پښو ونيوله او له کور څخه يې وويستله او لکه يوه د غنمو بوجۍ موټر ته يې واچوله او موږ بې پلاره خو و، بس وروسته له دې ورځې بې موره هم شولو .دوه يا درې ساعته ورسته مو تره يوه پلاستيکي کڅوړې سره راغلاو چې هغه کڅوړه کې ۲۳ لکه د هغه وخت شني افغانۍ وې .سهار چې شو موږ بايد جومات ته د سبق لپاره تللي وی خو تره او د تره زامنو موږ ته د جومات د تلو اجازه را نکړه .ورسته له هغه ورځې به چې زما او زما د ورور له کوم بل کليوال ماشوم سر جګړه شوه نو هغو به دا پيغور راکولو چې که چيرې ته نر يې او يا د نر زوی يې نو خپل مور د له تره/کاکا وګټه .دا چې په مورجانه څه تير شوي دي دا بيا بله ورځ ليکم.

مور جانه يې په نيمه شپه په زور واده کړه.

مورجانه نور نه زموږ واک او اختيار درلود او نه خپل خو دې هڅه کوله تر څو هم خپل واک اوداختيار ولري او هم موږ بيرته بيرته ورسره يو ځای شو.

مور جانه له ښاري ژوند څخه کليوالي ژوند ورننوته او يو کليوال سړي او کليوالي کور نی ته په لاس ورغله چې د دوی کې کور حتا يو کس هم ليک او لوست د چا نه و زده. مور جانې لومړی هڅه کوله چې نکاه ونه تړي او خسرګنی يې دې ته مجبوريږي چې د مورجانې مور او پلار پيدا کړي او دوی دې کار کې بريالي کيږي چې د مور جانې مور او پلار پيدا او په مختلفو افغاني دلايلو دوی له ځان سره بوځي او مورجانې ته يې ورولي. د مور جانې خسرګنی د مورجانې مور او پلار ته کورته مرکه ورليږي او ورته وايي چې موږ ډيره غلطي کړې او ستاسو لور مو په زوره کورته را واده کړه خو اوس خو اوس ستاسو لور نکاه نه تړي او وايي چې زه نه ميړه کوم او نه غواړم چې دلته ژوند وکړم. دوی د مور جانې مور او پلار ته دا هم وايي چې دوی د مور جانې ته نصيحت وکړي تر څو نکاه ته حاضره شي.

خلص د مور جانې مور او پلار او څو نورې زړې کليوالي ښځې په دې بريالی کيږي چې مور جانه نکاه ته غاړه کيږدي.

د مورجانې خسرګنی مورجانه مجبوره کړې وه چې يو تور غټ پړونی بايد په سر کړي، د ډوډۍ پخول په تناره باندې بايد زده کړي، د غوا لوشل او غوا ته واښه آچول بايد زده کړي او همدا ډول بايد مخ هم پټ کړي او دوی له مورجانې سره وعده کړې وه چې ورسته له څو مياشتو موږ هم مورجانې ته راولي او په همدې دليل د مور جانې خسر په مياشت کې يو واری زموږ کلي ته راتلو او زموږ له تره سره يې بحث کولو چې موږ په لاس ورکړي خو تره مو تل ورته ډول ډول بهانې جوړولې او بيا چې موږ مور جانې ته د ۱۳ ورځو لپاره ورغلو هغه کيسه خو مې مخکې ليکلې ده.

_5د ۱۳ ورځو لپاره چې کله موږ مورجانې ته ورغلو نو ما لاره ډيره ښه وځارله او د مور جانې خسر هم راته وويل چې ګوره نصير جانه لاره وځاره او بل وارته بيا خپله راشه .يوه ورځ زما پر وچه ډوډۍ د تره له ښځې سره جنګه شو، هغو ماته وچه ډوډۍ نه راکوله او زه هم وږی وم، نو زه له کلا څخه راووتلم او په چيغو مې پيل وکړ چې هې خلکو ماته وچه ډوډی په دې کور کې څوک نه را کوي .د تره ښځه مې راغله او زه يې کلا ته د ننه کړم او ښه سم يې ووهلم .يو ساعت ورسته ما خپله خور چې له ما يو کال کشره وه او له ما څخه ډيره مظلومه وه، د کلا شاته راوسته او ورته مې وويل چې زه مور جانې ته ورځم، زما خور پر ما ډير ټينګار وکړ چې بايد دا هم راسره بوځم خو زه ماشوم وم او زما تر وسې تېره وه . زموږ کلی او زموږ د مور جانې پلارنی کلی څنګ پر څنګ و، يو رود زموږ د کلي او د ماما خيلو د کلي تر منځ و، زه لومړی راغلم د مورجانې پلارني کلي ته او د نيکه کور ته ور ننوتم .دوی زه په بالا خانه کې کښينولم او خاله ګانو مې زه ډير وخت نه وم ليدلی ځکه چې دوی زموږ د ليدو اجازه نه درلوده او موږ هم د دوی د ليدو اجازه نه درلوده .نو په دې ورځ دوی زه ډير ونازولم ميوه انګور ډوډی هر څه يې ښه پريمانه راکړل .ما دوی ته وويل چې تره او د ده کورنی پر موږ ډير ظلم کوي او زه غواړم چې مور جانې ته مې ورشم، دوی راسره ومنله .په دغه شپه ما د تره او د ده دکورنۍ له ډاره تر سهاره خوب و نه کړ .سهار وختي مې مشرې خاله يوه وچه ډوډی لاس کې راکړه او نيکه له کلا را وويستلم او د مورجانې د کور په طرف را روان شوم .سالارو ته نا رسيده څو سپيانو غپل او مالوميده چې دوی هم وږي دي، ما هغه وچه ډوډی سپيانو ته واچوله او لاس مې پورته کړل چې ای خدای زه دا وچه ډوډی دې سپيو ته آچوم خو له تا هيله کوم چې ما خپلې مورجانې ته ورسوې .په لاره مې منډې وهلې البته پر لوی سرک هغه هم دا د کندهار -کابل سرک باندې چې ګورم له شانه

يو 302 ودريدو او کلينر چې يو پوخ ځوان سړی و، رانه يې وپوښتل :هلکه ولې منډې وهې؟ ما ورته وويل چې زه د مور جانې کور ته ځم او ويره لرم چې تره او يا د تره زامن مې له شانه را پسې را نه شي .دې پاخه ځوان له بغل څخه توپانچه را وويستله او راته يې وويل :دا توپانچه وينې چې تره او د تره زامن د راشي په دې يې په دا تندي ولم، ډاډ يې راکړ چې دی ما د مور جانې تر کلي رسوي .خلص د دې پاخه ځوان کلی د کندهار-کابل د سرک پر غاړه و، او زما د مور جانې کلی د دوی په ګاونډ کې و .لومړی يې خپل کور ته بوتلم او د ده ميرمنې کوچ او چای راباندې وخوړل او بيا يې د مورجانې د کلي لار را وښودله .ما حرکت وکړو او تقريبا پس له يو نيم ساعت مزل څخه د مورجانې کور ته ورسيدم .کور ته چې ننوتلم د مورجانې لاس کې د ښوروا کاسه وه او زينو کې راښکته کيده پر ما يې چې سترګې ولګېدې له ډېرې خوشحالی يې کاسه له لاسه ولويده او را ښکته شوه او زه يې غېږ کې ټينګ کړم .لومړی يې زما خيرن مخ او چاودې پښې او چاودې لاسونه را پرېمنځل او بيا يې په واصيلينو را غوړ کړل خلص زه او مورجانه ډېر خوشحاله و خو بيا هم خور او ورور نه و راسره .

پس له 9 ورځو مو تره/کاکا کلي ته راپسې راغلو او سپينږيري يې راټول کړل او د سپين ږيرو فيصله دا شوه چې مور جانه به ما د ماما خيلو کره نه پزيږدي او بل دا چې پاکستان ته به مې هم نه بيايې او يوازې 9 مياشتې اجازه لرم چې له مور جانې سره ژوند وکړم او پس له 9 مياشتو بايد بيرته د تره/کاکا کور ته ولاړ شم .خلص پس له 9 مياشتو بيا مورجانه او د دې خسرګنی زما لپاره او زما د تره له ډاره هغه وخت کې کلی پريښودو او رغلل کويټې/کوټې ته .نور کيسه بيا بله ورځ ليکم.

6-

زما او د مورجانې د جدايی کيسه!

کله چې زه مور جانې ته ور وتښتيدم نو د سپينږيرو په فيصله زه بايد ۹ مياشتې له مور سره وی او وروسته له ۹ مياشتو بايد بيرته تره/کاکا ته په لاس ورکړل شوی وی .نو کله چې ۸ مياشتې تېرې شوې، زه او مور جانه بيا ډاريدو چې اوس بيا له يو او بل څخه جلا کيږو نو مور جانې له خپل خسر سره مشوره وکړه او هغه يې دې ته ليواله کړو چې موږ ټول بې خبره په نيمه شپه کلی پريږد او کويټې/کوټې ته ولاړ شو .پلندر مې نه و، او هغه کوټه کې و، او بې خبره بايد په دې دليل تللي وی چې سپينږيري پر موږ نه وی خبر شوي ځکه چې هغوی زما ضمانت کړی و چې ۹ مياشتې وروسته به ما دوی بيرته د تره په لاس ورکوي .

کويټې/کوټې ته چې ولاړو نو ما په لومړي ځل د مور ميړه/پلندر وليدو .د کليوالو ماشومانو پيغورونه را ياديدل او د مور ميړه هم زما مغزو باندې بد لګيدو خو د مور ميړه /پلندر له ما سره ډېر مهربانه و او ماته يې په دې شپو او ورځو کې ډېر ناز او مينه راکوله خو ماته بيا هم پلار نه بلکه پلندر و او د پلار جان کلمه چې ما خپل پلار جانه ته په ماشومتوب کې کاروله اوس ډېره ګرانه وه چې ده ته يې هم وکاروم نو د مورجانې په مشوره مې ورته کاکا ويل او تر ننه پورې ورته کاکا وايم .

کوټې/کويټې ښار ته د سپين ږيرو ليکونه را پيل شول او دوی په ليکو کې ليکل چې زما تره هره هفته ما پسې کلي ته راځي او له دوی ما غواړي ځکه چې دوی زما د بيرته په لاس ورکولو ضمانت کړی دی .نو دې ليکونو زه او مور جانه ډېر ځورولو .

کله به چې ما د کوټې په ښار کې د پلارني کلي کوم کليوال او تربور ليدو زه به ورڅخه تښتيدم او منډه به مې کړه له دوی .زه ډاريدم چې دوی حتما ما پسې راغلي .وروسته له څلور مياشتو د ليکونو له کبله مجبوره شولو چې بيرته وطن ته ولاړ شو .کلي ته چې ولاړو نو تره به بيا هم هر مياشت راتلو او د سپين ږيرو په واسطه به يې موږ ځورولو .خلص يوه شپه زما پلندر او د ده د تره زامنو او نورو سپينږيري زما له تره سره بيا زما په هکله يوه جرګه جوړه کړې وه، چې دې جرګه کې زما پلندر احساساتي کيږي او زما تره ته وايې چې تا خو موږ ته د واده نه مخکې ويل چې که چيرې د ماشومانو مور خپل ماشومان وغواړي نو تاسو ورسره ستونزه نه لری او ماشومان مور ته په لاس ورکوی خو اوس ولې موږ ځور وې ؟ بس په جرګه کې کنځل کيږي او د پلندر د تره زامن او سپينږيري هم زما د تره پلوي کوي او زما پلندر داسې وهي چې سر يې څو ځايه ماتيږي او وينو باندې يې مخ سور کيږي .زما پلندر په ډيره بدبختۍ تر خپل کور پورې موږ ته ځان را ورسولو او کله چې ما او مور جانې پلندر په وينو کې سور وليدو نو هم وډار شوو او هم ډېر وځوريدو . مور جانې په نيمه شپه د پلندر سر ته پټۍ ور وتړله او پلندر په همغه شپه موږ له کلي را وويستلو .د دوی له کلي تر پاخه سرکه يونيم ساعت د پښو لاره وه، او مور جانې په هغه شپه صحيح بوټان نه درلودل نو د مورجانه پښو کې ډېر اغزي تللي و.

سرک ته چې را ورسيدو په يوه بارداره موټر کې د سيد آباد تر ولسوالۍ ولاړو او بيا د يوې خاله/ترور کورته ورغلو او پلندر مې موږ وروسته له څو ورځو د خاله له ميړه سره کندهار ته د يوې بلې خاله کره وليږلو او ده غوښتل چې خپله بدل د ترو له زامنو واخلي .

کندهار ته چې ورسيدو نو زه او مور جانه يو څه خوشحاله و چې نور موږ له يو او بل څخه هيڅوک نه شي جلا کولی خو کيسه داسې نه شوه.

څو ورځې وروسته پلندر هم له وردګو کندهار ته راغلو او داسې ښکاريدو چې سپين ږيرو او د ده پلار چې د مور جانې خسر کيدو، پلندر ته قناعت ورکړی چې ما د تره په لاس ورکړي .او دوې ورځې وروسته د مورجانې خسر هم راغلو او زه يې بيرته له مورجانې جلا کړم .سهار و، مور جانې ماته کتل او ما مور جانې ته .ما ويل زه نه ځم مور جانې چيغې وهلې او ژړل يې خو بې وسه وه او څه يې له وسې نه کيدل او ما هم چيغې وهلې او ژړل مې او د مورجانې خسر د مور جانې له غيږې را جلا او د وردګو پر لوري روان شو .هغه وخت کې د کابل- کندهار سرک ډېر خراب و، او موږ ۲ ورځو په يو ۳۰۲ موټر کې وردګو ته

ورسیدو او ما له کندهاره څخه تر وردګو ژړل خو افغان دود او غلت کلتور او دستور زما او د مورجانې ژړا نه لیدله او د مورجانې خسر زه د تره /کاکا په لاس ورکړم او ورسته له هغې ورځې ماته د تره ماشومانو تبنتیدلی ویل .وروسته له دې ورځې مور جانې ته قلبي مرض/د زړه مرض او همدا ډول عصبي ستونزې هم پیدا شوې وې .

7

مور جانه چې په زور واده شوه نو څه وخت باد زموږ د کاکا/تره اقتصادي ستونزې زیاتې شوې او له موږ سره یو ځای د کویټې مسلم باغ ته کډه شولو .مسلم باغ کې افغان کډوالو اکثریت د کرمایت/کرم معادنو کې کار کولو نو زما د تره هغه زامن چې له ما څخه مشران وو ټولو ته مزدوري پیدا شوه، زه او زما یو د تره زوی چې زما همځولی وو په کور ناست وو نو کله ناکله به پیغورونه هم راکول کیدل چې ته مفت خوره یې او نور ټول مزدوري کوي او ته کور کې ناست یې او دا پیغور زما پر مغزو بد لګیدو .خلص د جمعه په ورځ مې چې کله تره دمعادنو له غرو څخه مطلب له کار څخه راغلو نو ما ورته وویل کاکا جانه دا ورته چې مزدوري پیدا شوه نو ما ورشامل کړه هغه وخت کې زه لس کلن وم او پس له یو څه وخت ورسته د یو مالداره کاکړ کورنۍ کې راته کار پیدا شو .د هغه مالداره کاکړ کور کې ما د کور سودا راوړله او د دوی د غوا غوجلې به مې پاکولې او غوا ته به مې واښه آچول او دوی ماته هغه وخت کې د میاشتې ۸۰۰ کالدارې، یوه کوټه او خرڅ او خوراک راکول .یوه ورځ د دې کورنۍ ماشومانو له ما څخه په بازیو کې وپوښتل چې زه ولې مکتب/سکول ته نه ځم او ولې د دوی کور کې کار کوم نو ما ورته وویل چې زما پلار جان افغانستان کې یو جنرال وو او د وطن لار کې شهید شوی دی او بیا مې کاکا/تره زما د پلار جان له مرګ څخه ورسته زما مور په زور واده کړې او زما مور جانه او پلار جان بې

8_

تعلیمه خلک نه وو او زه هم بې تعلیمه نه یم .ماشومانو خپل کتابونه راوړل ما ورسره پیل وکړو او د دوی په مشق یا کارخانګۍ کې مې ورسره مرسته وکړه ماشومان ولاړل خپلو پلرو ته او زما صفتونه یې ورته پیل کړل چې نصیر ډیر لایق او پوهه دی .زه د کور مالک/مشر ور وغوښتمه او ما خپل د پلار جان او مور جانې کیسه ورته وکړه، خدای شته ډیر ښه خلک وو له همغه ورځې ورسته دوی ځانته بل مزدور ونیوو او زه کور کې داسې اوسیدم لکه د هغه کور ماشوم خو تره/کاکا مې نه وو راباندې خبر .یوه ورځ د کور مالک زه بیا ور وغوښتم او رانه یې وپوښتل چې زما مور جانه چېرې ژوند کوي؟ ما ورته وویل چې هغه کویټه/کوټه کې ده !نو هغه راڅخه وپوښتل چې غواړې مور ته د ورشې؟ زه خوشحاله شوم او ورته مې وویل :هو ولې نه !زما د مزدورۍ پیسې یې لاس کې راکړې او یو موټر کې یې کیښنولم او کویټې ته راغلم .زه یو وارې مخکې هم مور ته را تښتیدلی وم او بیا مې مور جانې او د دې خسرګنۍ زما لپاره او زما د کاکا له ډاره وطن پریښودو او کویټې ته راغلل مطلب زه کویټه کې بلد وم .د لومړۍ تیښتې کیسه بیا بله ورځ لیکم .خلص کویټې ته چې راغلم نو زړې اډې ته ولاړم او هغه ځای کې مې د مور میره) چې پښتو کې ډیر بد لفظ دی (پیدا کړو بس کله مې چې دی ولید ګونګی شوم خبرې مې نشوی کولی او یوازې مې دی له لمنې کشولو او هغه فکر کولو چې زه کوم خیراتګر یم راته یې په اردو کې وویل) :ماف کرو (مطلب ما وبخښه !ما خبرې نشوی کولی خو خلص آخر کې ده زه وپیژندلم او غیږ کې یې ټینګ کړم او روان شولو د مور جانې کور ته او کله چې کور ته نیږدې شولو نو ده ماته وویل ته دلته ودریږه زه بیا راځم . دی کور ته ننوتو او مور جانه یې پوهه کړې وه چې نصیر بیا را تښتیدلی دی .بیا مې مور جانه را ووتله او زه یې غیږ کې ټینګ کړم او مورجانې له خوشحالۍ ژړل او پس له دې ورځې ما ځان له کاکا/تره خلاص کړو او د مور غیږ کې را لوی شوم او په کویټه کې هم مکتب ته تلم او هم مې په یولس کلنۍ کې د خیاطۍ دوکان درلود او خیاط شوم خو د افغانانو د بد دود له کبله خور او ورور مې بیا هم له کاکا/تره سره وو او مور جانې اجازه نه درلوده چې دوی هم ما غوندې له ځان سره را لوی کړي او تل به یې زما خور او ورور پسې ژړل.

9-

د مورجانې ستوني غوښه درلوده او سخته مریضه وه او باید عملیات شوې وی .ډاکټر یې زما پلندر/د مور میړه ته ویلې و، چې زوی یې باید د عملیات وخت کې له مور سره نه وي .زه مې پلندر له کویټې/کوټې څخه مسلم باغ ته ولیږلم .په مسلم باغ کې زما د تره کور و، نو هغه وخت کې زما تره نور له ما ډاډه و چې زه نور د ده پر درواغو نه ختاوځم او ما هم نور دوی خپل کور کې نه شي ایسار ولی .مسلم باغ ته د تره کور ته ورغلم، د تره کور کې ډیر بدلون راغلی و، مثلا زموږ او د مورجانې مزارۍ دست باف قالینه یې په مېلمستون کې آچولې وه او له دې نه مخکې زموږ هغه مزارۍ قالینه ورته الماس غوندې ښکاریده او کونج کې به ولاړه وه .راځم کیسې ته :خلص د تره کور کې هر څه بدلون کړی و، مثلاً زما خور سربیره له دې چې ماشومه وه کاسې یې په یخو اوبو مینځلې او د تره کره یې داسې کار کولو لکه یوه مزدوره او ټولو داسې امر په کولو لکه دوی چې باداران وي او زما خور یوه مزدوره .ورور مې بل ډول بدلون کړی و، هغه فکر کولو چې زه بې غیرته یم او د مور له میړه سره ژوند کوم .تره او د تره کورنۍ مې زما د ورور ماغزه داسې جوړ کړي و چې ده

فکر کولو چې زموږ مور جانې خپله واده کړی او زموږ مور جانه او زه دواړه ډیر بې عزته او بې غیرته انسانان یو .دې زه ډیر وځور ولم او ماښم فکر کې ناست وم چې د تره زامن او د دوی ټوله کورنۍ زموږ د مورجانې په هکله منفي بحث پیل کړو او ما د خپلې سپیڅلې مور دفاع کوله .زه دې بحث هم ډیر وځورولم له کوټې را ووتلم چې ګورم خور مې اوښکې تویه وي او لوښي مینځي .زه ورنیږدې شوم او ورڅخه مې وپوښتل چې ولې ژاړې؟ دې راته وویل نصیره !دا وارته به یا ته هم مورجانې ته نه ورځې او یا به ما هم درسره بیایې !ما ورڅخه وپوښتل ولې؟ خور مې ځواب راکړو او وویل چې ته کله دلته راشې د تره کورنۍ له تا یا بیریږي او یا حیا کوي پر موږ ظلم نه کوي او کله چې ته ولاړ شې موږ ته دا کور دوزخ جوړ شي .خدای شته د خور دې خبرو زه نور هم ډیر وځور ولم او کله چې بیرته کوټې ته راغلم نو د مور جانې ستونی عملیات شوی وه او صحیح خبرې یې نشوی کولی .خو زما زړه صبر ونه کړو او مور جانې ته مې د خور او ورور د ژوند بد حالت وویلو هغو راته وویل بچیه صبر وکړه چې دا ستونی مې لږ ښه شي دواړه به له خیره ورځو او خور او ورور به د دواړه راولو .بس دوې هفتې وروسته که چې د مور جانې صحت ښه شو بیا یې خپل میړه ته یې قناعت ورکړو او له ما سره د مسلم باغ په طرف روانه شوله .مور مې له پخوانیو وختو تجربه درلوده او دا وارته یې له کوټې صابون شامپو او کریم د خور او ورور د پاکوالي لپاره واخیستل .کله چې د تره کور ته ور ننوتلو نو ټولو زما مور جانې ته داسې کتل لکه یوه زمرۍ چې د ګیدړانو کور ته ور ننوځي .خلص کوټه کې کیښناستو چې خور مې راغله او د مور غیږ کې مې ننوته، دا هم په له آتو کلو .او بیا مې ورور راغلو او هغو مور جانه نه پیژندله او مور جانې ته مخامخ کیښناستو .
مور جانې ورڅخه وپوښتل چې ما پیژنې؟ ورور مې ګونګ پاتې شو، مور جانې غیږ کې ټینګ کړ او ورته یې وویل زه ستا مور یم .بس وروسته له همدې لحضې دواړه پر مورجانه داسې چسپیدلي و چې هیڅ نه جلا کیدل .خلص لاسونه او پښې یې بیا هم چاودې او مخونه یې خیرن و، مور جانې د تل په څېر بیا دوی پاک پاک پریمنځل .
مور جانې زما تره ته وویل چې زه مې له زوی سره راغلي یم چې خپل بل زوی او لور د څو شپو لپاره بوځم .تره /کاکا مو تر ماښامه ویل صحیح ده 'کولی شی له ځان سره یې یوځی .خو سهار چې کله تره را پاڅیدو ماغزه یې بدل شوي و او پیل یې وکړ په جنګ او جنجال او مور جانې ته یې وویل :چې ته اوس پردی ښځه یې او هیڅ حق پر ماشومانو نه لرې او حتا ستا له دې غوښتنې سره زه اوس نصیر هم نه درسره پریږدم او آخر کې یې مور جانې ته وویل :چې ځه ورکه شه !ما او مور جانې له مخکې پلان جوړ کړی و چې د تره او د ده د کورنۍ له داسې چلند سره څه باید وکړو .زه او مور جانه د تره له کور څخه راوتلو چې خور او ورور مو په ژړا پیل وکړ .مور جانې راوګرځیده او په ډیره مهربانه او سړه سینه یې زما خور او ورور ته وویل چې بچیانو تاسو مه ژاړی زه ورسته بیرته راځم او دا وارته مو د تل لپاره له ځان سره بیایم .
موږ را ووتلو او پر لاره مور جانې ماته وویل :بچیه خور د نن ټوله شپه زما غیږ کې ماته ویل چې ګوره مور جانې دا وارته موږ دلت یوازې پرینږدې او د تره په وعدو او خبرو ختا نه وزې.
خلص موږ په مسلم باغ کې د وردګو د قوم د یوه سپین ږیري کور ته ورغلو . او مور جانې په ډیر جرئت ټوله کیسه دې سپینږیري ته وکړه .دې سپینږیري موږ ته وویل :چې ما تاسو پر آسمان غوښتی او خدای تاسو پر ځمکه راکړې .موږ ورڅخه وپوښتل ولې؟ سپینږیري زما مورجانې ته وویل :څه وخت مخکې ستاسو لور دوی وهلې وه، او هغه زموږ کور ته رغلې وه، او موږ ستاسو د لور ننګه وکړه او زموږ خبر تر دښمنۍ او ټوپکو پورې ورسیده .دې سپین ږیري وویل ما غوښتل تاسو پیدا کړم تر څو مرسته درسره وکړم چې ماشومان مو د دوی له منګولو خلاص کړی .دې سپینږیري یو بل د وردګو مشر سپینږیری هم راخبر کړ او ټول بیرته د تره کور ته ورغلو .تره، د تره دوهمې ښځې او د تره زامنو ډیر ډول ډول اسلامي غیر اسلامي، افغاني او غیر افغاني دلایل وړاندې کړل خو الحمدالله سپین ږیرو ته د دوی دلایل د قناعت وړ نه و .زما غیرتي او سپیڅلې مور یوازې یو دلیل ورته وړاندې کړ او دوی یې په پښتو په اسلام او هر څه کې ملامت کړل .
مورجانې ورته یې وویل :هم زما زامن دوی لورانو ته نا محرمه دي او هم د دوی زامن زما لور ته نا محرمه دي، نو که چېرې دی)تره (زما ماشومان خپل ماشومان او خپله کورنۍ حسابوي نو یوه خپله لور د زما پر زامنو مبارکه کړي او زما لور د پر خپل یو زوی باندې مبارکه کړي او زه به د ټول عمر لپاره بیا بې غمه شم او داسې فکر به وکړم چې دا خلک زما ماشومانو سره داسې چلند کوي لکه د خپلو ماشومانو سره او زما ماشومان د دوی د کورنۍ غړي دي او که داسې نه کوي نه بیا د مهرباني وکړي ماته د زما ماشومان لاس کې راکړي چې دی هم بې غمه شي او موږ هم .زما د مور جانې وړاندیز سپینږیرو ته د قناعت وړ شو، خو تره او د ده کورنۍ ته زما د مورجانې وړاندیز د منلو وړ نه و او د سپیږیرو جرګه پر همدې ځای پای ته ورسیده او سپینږیرو زما تره او د ده کورنۍ ته مخ وویل تاسو ملامت یاست او ماشومان باید خپلې مور ته په لاس ورکړی او ما او مور جانې خور او ورور له لاس څخه را ونیول او د کویټې په طرف خپل کور ته راغلو .بس نور موږ ټول د تل لپاره د تره له جنجال څخه خلاص شو.

10-

په کویټه/کوټه که به ما په اوړي کې اندواني خرڅولې او په دوه اخترو ک به ما خیاطي کوله زما دوکان په کویټه کې د پښتون آباد د ګول مسجد پر غاړه وو نو کله ناکله به ځوانانو په قرض هم له ما سودا کوله نو یو ځوان وو چې هغه له ما څخه قرضداره وو او هر وارې چې ما خپل قرض له ده غوښتو ده به راته بهانه کوله او د زور خبره یې کوله او یو لوی دلیل یې دا وو چې ده شناختي کارډ یا پاکستانی تذکره درلوده خو موږ کویټه کې مهاجر حسابیدو او هیڅ اسناد مو نه درلودل خو یوه ورځ زما او د ده جنجال شو .ده راته وویل :چې پیسې مې نه راکوي او لاس مې تر لندنه خلاص !هغه وخت کې زما

دمور میره/پلندر) چې پښتو کې ډېر بد لفظ دی ایران کې وو او هسې هم څوک به چې خبر شول چې زما اصلي پلار دی نه ده نو له ما یې حیا نه کېده خلص زما او د هغه ځوان هلک جنګ شو هغه چاقو راباندې را واخیست او زما لاس ورته برابر شو د ده لاس مې ور تاو کړو او چاقو مې ورڅخه واخیست او د چاقو داخیستو په حالت کې د ده ګوتې پرې شوې او جنګ کې د ده سر هم وینې شو .خلکو پولیس را خبر کړل او د کویټې د سټلایټ ټاون د پلیس ستیشن پولیس راغلل .ځوان هلک په اردو ژبه کې هغه وخت له ما تکړه وو او ده پولیسو ته وویل :چې ده نه بلکه ما چاقو را واخیسته او دی مې په وهلی دی . دوه پولیسو زه کلک ونیولم او یو په ډنډه باندې داسې ووهلم چې ټول دوکانداران او ځایي خلک را باندې راټول شول وروسته له وهلو پولیسو حوزې ته بوتلم او پولیس ستیشن کې هم هیچا زما خبر نه منله او چا غوږ هم نه راته نیولو او اکثریت پولیس ټول پنجابیان وو .خلص د هغه هلک پلار هم راغلو او مور جانه چا خبره کړې وه او ما پسې حوزې ته راغله خلص مور جانې چې زه او د پولیسو د ډنډو زخمونه زما پر بدن ولیدل ډېره ځورېده او اردو ژبه هم صحیح نه ورتله او هیچا زما او د مور جانې خبرې نه آوریدې او توجه یې نه ورته کوله .د څنو پلیسو د دندې وخت پای ته رسیدلی وو او نوي پلیس حوزې /پلیس ستیشن ته راغلل په دوی کې یو پولیس چې اڅکزی وو او زما مشتري وو او څو ځلې ما ورته کالي ګنډلي وو هغه زه ولیدم او مور جانه یې ولیده چې سترګې یې له اوښکو ډکې دي نو ماته راغلو او په پښتو کې یې راڅخه وپوښتل :نصیر جانه څه کیسه ده؟ ما ورته وویل :قرض یې نه راکولو او کنځل یې وکړې او کله چې ده چاقو را واخیستو او ما چې کله د ده لاس ورتاو کړو او چاقو مې ورڅخه اخیستو ګوتې یې پرې شوې .دې پولیس زما پر خبرو باور وکړ او په یوه څاپیړه یې له هغه ځوان هلک اقرار واخیستو اوهغه هلک وویل چې دی هم زما قرضداره دی او هم چاقو ده را اخیستی وو .خلص زه را خوشي شوم او مور جانې به هره ورځ زما هغه زخمونه چې د پولیسو له وهلو پاتې وو را غوړول .زما مور جانه سره له دې چې خپل واک او اختیار نه درلود خو زما لپاره دا هم پلار وه او هم مور.

-11ایران ته زما د تګ کیسه!

ما او د مور میره/پلندر مې د ایران په طرف حرکت وکړو، موږ د ایران ایرانشهر ته نه و رسیدلي چې پلندر مې د ایران پولیسو ونیو . زه هغه وخت کې تقریباً ۱۳ کلن وم او ړیره مې لا سمه نه وه را وتلې .موټروان په ایرانشهر کې موږ ټول یوې مسافرخانې/د مسافروکور ته ورننوستو، چې هغه مسافرخانه/د مسافرو کور کې ما پنځلس ورځې تېرې کړې، هغه پنځلس ورځې ما په ډېره بدبختۍ کې تېرې کړې، د بدبختۍ اصلي لامل یې دا و، چې په هغو د مسافرو کور کې اکثریت افغانان په موادو مخدره بوخت و، او دې زه ډېر ځورولم او پس له هغې ورځې ما تل نورو افغانانو ته مشوره ورکړې چې له ۱۸ کلو ښکته ماشومان مو د قاچاق پر لاره مه رالیږی .وروسته له ۱۵ ورځو زه پوهه شوم چې زه په دې کور کې ګروګان نیول شوی یم او ما بیا هڅه کوله چې له دې کور څخه ووځم .

په چالاکۍ له کور څخه راووتلم او مخې ته یو ایرانی پولیس راغلو، زه د هغه له ډاره د یو ایراني په کور ورننوتم چې هغو کور کې یوه میرمن له خپل میره سره ژوند کولو .ما د خپل ژوند کیسه ورته وکړه او دوی هم له ماسره ډېره همدردې ښکاره کړه، یوه هفته یې خپل کور کې ځای راکړو او وروسته له یوې هفتې یې زه له ایرنشهر څخه د کرمان پر لوري یو باوري موټر کې ولیږلم .په کرمان کې زموږ د پلندر د یو ملګري کورته ورغلم او شپږ میاشتې د هغوی په کور کې وم .وروسته له شپږو میاشتو مې پلندر مور جانه او زما خور او ورور هم له کویټې د ایران ایرانشهر ته راوستي و، او زه چې کله خبر شوم بیرته ایرانشهر ته ولاړم چې خپلې کورنۍ سره یو ځای شم .ایرانشهر کې زموږ د کور اقتصادي حالت ډېر خراب و، او ایرانشهر کې مزدوري هم نه وه .نو ما بیرته د کرمان په لوري حرکت وکړ او بیا له کرمان څخه شیراز ته او له شیراز څخه تهران ته ولاړم .په تهران کې د مولوي په نامه یو ځای کې چې افغانان زیات و ولاړم او هغه ځای کې مې لومړی یو وردک پیدا کړو چې بیا هغو وردک ماته زموږ د پلندر ورور راپیدا کړو .په ایران کې ماته هیڅ چا ساختماني کارو کې کار نه راکولو ځکه چې زه ماشوم وم .وروسته له درې میاشتو ما په یو دوکان کې د شاګردی کار پیل کړو چې هغو وخت کې یې ماته د میاشتې 30000 تومان راکول .او په همغه وخت کې چې زما پر سر د مور او پلار لاس نه و، زه سګرټي هم شوم، چې خدای شکر وروسته له ۲ کلو د سپورټ په پیلیدو او دمورجانې له راتګ سره د ایرانشهر څخه تهران ته ما سیګرټ څکول هم پریښودل.

12-

د مور جانې د مړینې کیسه!

مور جانه او زموږ پلندر زموږ د یوې خاله د واده لپاره له ایران څخه افغانستان ته ولاړل.

د پلندر ورور ته مورجانې خپله کوچنۍ خور هم کوزده کړې وه او دا واده د پلندر د ورور او زموږ د خاله واده و.

مور جانه چې کله کابل ته ځي د کابل انځور ډېر بدل شوی و، تازه د کرزي صاحب لومړۍ دوره وه او کابل کې چا چې موسسو کې کار کولو ښې پیسې یې ګټلې .مور جانې د خپل کور ځنې څیزونه د خپلوانو کورو کې لیدلي و او ډېره یې ځورولې وه .مور جانې زما او زما د خور او ورور همځولي لیدلي و، چې څوک له دولسم ټولګي فارغ شوي و او څوک په پوهنتون کې تحصیل کولو.

مور جانې ډېرو خپلوانو ته ویلي و :چې زما او زما د ماشومانو راتلونکې تباه شوه .لومړی میړه مې چې با سواده او یو نظامي و، د وطن لار کې شهید شو او زه او ماشومان مو بې سرپرسته پاتې شو، کور ځمکه جایداد مال او حتا زه لیلام شولم او دوهم میړه مې یو بې سواده، په یوه پښه ګوډ او په غوږو کوڼ دی .مور جانې زموږ صفتونه خپلوانو ته هم کړي و چې ماشومان مې

ځوانان شوی دی او خدایه شکر نیک صالح را لوی شول او بلخصوص زما یې صفت کړی و چې نصیر ډیر ښه سپورټ مین شوی دی او ډیرې اتلولۍ یې ګټلي دي .
پنځلس ورځې د مورجانې او د پلندر د سفر څخه وروسته ماته زما مشرې خاله ټلفون وکړو او راته یې وویل چې نصیر جانه مور جانه د سخته ناروغه ده، او په شفاخانه کې په کوما حالت کې بستر ده او زه باید کابل ته ورشم.
ما وروسته له ټلیفوني خبرو له خور او ورور سره مشوره وکړه او دوی هم راته وویل چې باید زه له ایران څخه افغانستان ته ولاړ شم .
ما حرکت وکړو له اصفهان څخه مشهد ته راغلم او له مشهد څخه مې د دایران د خروج سند تر لاسه کړو او هغه ځای کې مې د افغان کډوالو یو کمپ/اردوګاه ولیده چې افغان کډولو هغو کمپ کې ډیر بدحالت کې شپې تیرولې .
له مشهد څخه د افغانستان د اسلام کلا په لوري روان شوم .
هغه وخت کې ایران ډیر شین چاپریال درلود او کله چې له مرز څخه واوښتم د هیوادوالو بې نظمۍ، د خاورو ګردونو او سپیره افغانستان زما اوښکې تویې کړې او ګونګ یوې خواته لکه لیونی کښیناستم او ژړل مې، وروسته یو هراتی هیوادوال راغلو او پوه شوی و، چې زه د افغانستان غربت فقر او بې نظمه حالت ډیر ځورولی یم نو له ما سره یې غم شریکي وکړه او راته یې وویل چې مه ژاړه متاسفانه زموږ وطن همدا بې نظمه او له دوړو او خاورو ډک افغانستان دی.
دې هراتي هیوادوال زه خپل کور ته بوتلم او یوه شپه ما له ده سره او د ده له کورنۍ سره تیره کړه .خدای شته دوی زما ډیر عزت وکړو او سبا ته یې راته د کابل په لوري ټکټ وکړو.
د کابل په لوري چې روان شوم نو بیا هم د خپلو هیوادوالو بې نظمۍ ډیر ځورولم .مثلا هغو وخت کې دوی سیګرټ موټر کې څکول او نصوار یې هم کله ناکله موټر کې تف کول د خولو بوی ټول موټر په سر اخیستی و، او ما له هرات څخه تر کابله ژړل او ټولو هیوادوالو راته حیران حیران کتل .زما ژړا درې دلیله درلودل.
لومړی :د وطن بد حالت .
دوهم :ماته زما د ماشومتوب او یتیمۍ بې وسي رایادې ده.
دریم :شاید هم زما اروا د مورجانې په مرګ خبره وه او په دې دلیل زما له سترګو اوښکې تویدې.
کابل ته ورسیدم چې ګورم د کابل له کمپنۍ اوس لوی بازار جوړ شوی او زه لاره نشم پیدا کولی .زه مجبوره شوم چې خپل ماما ته د موټروان له ټلیفون څخه ټلیفون وکړم، چې راپسې راشي .
د ماما یا نیکه کور ته چې ولاړم نو ما لومړی د مورجانې پوښتنه وکړه، خو دوی بیا هم راته ویل چې مورجانه شفاخانه/روغتون کې بستر ده، خو ما شک وکړو او ټینګار مې وکړو چې زه مورجانې ته ورځم .ما دوی ته وویل چې ما مورجانې ته ورولي، او هر وخت چې مورجانه ما ویني صحت یې ښه کیږي .
موږ په همدې بحث باندې بوخت و، چې نیکه مې راته وویل) نصیر بچیه مور د خپل عمر تاسو ته دربخښلی او هغه وفات شوه ( بس نو زه ګونګ پاتې شوم او ژړل مې.
وروسته زما له پلټنو مورجانې او پلندر له کابل څخه وردګو ته راځي تر څو وردګو کې له خپلوانو خدای په اماني وکړي او بیا بیرته ایران ته راشي خو قسمت ورسره یاري نه کوي او وردګو کې وفاته کیږي.
مور جانه د پلندر په کلي کې د لاندي غوښه خوري او بیا یې فشار لوړیږي، کلي کې د ډاکټر نه شتون د دې لامل کیږي چې دوی مورجانه د وردګو سپین کلینیک چې د وردګو د سیدآباد ولسوالی کې موقعیت لرې، بیایې او دا کلینیک د پلندر له کلي دوه ساعته لرې وه هغه وخت کې .
په کلینیک کې د ډاکټرانو له معایناتو ورسته، ډاکټران زما پلندر ته وایې چې مور جانه وفات شوې او دوی ناوخته کلینیک ته راوستې ده.
بس مور جانه په ۳۳ کلنۍ کې وفات شوه او زه ۱۹ کلن خور مې ۱۸ کلنه او کوچنۍ ورور مې په ۱۷ کلنی کې بې موره هم شولو .یکم.
په ۲۰۱۲ کې ماته ذهني پوښتنې را پیدا شولې چې موږ افغانان ولې داسې غریب جګړه ځپلي او بې تعلیمه یاستو .نو ما لومړی پیل وکړ چې د افغانستان تاریخ سیاسیون او ګوندونه وڅیړم .ما مختلف کتابونه پښتو او دري/پاړسي سایټونه، خبري او څیړنیز سایټونه وڅیړل چې په پای کې یې ماته یوازې دا څرګنده شوه چې زموږ وطن کې ټول مذهبي ګوندونه پاکستان کې جوړ شوي او پاکستان د ډیورند د کرغیړنې کرښې لپاره هیڅکله نه غواړي چې افغانستان یو باثباته او پر خپلو پښو ځواکمن نظام ولري .ماته دا هم ثابته شوله چې ایران پر موږ فرهنګي/کلتوري یرغل کړی او موږ افغانستان کې د دري او پښتو د ودې لپاره هیڅ کار نه دی کړی او نه یې کوو .زه په دې پوه شوم چې زموږ ټولنه او د ګاونډیو هیوادو ټولنې له یو بل سره یو څه ورته والی لرې، خو د وخت په تیریدو زموږ ټولنه د جګړې او اسلامي ګوندو له کبله د نورو ګاونډي هیوادو له ټولنو شاته پاتې ده .دا شاته پاتې کیدل یوه برخه کې نه بلکه ټولو برخو کې موږ شاته پاتې یاستو .له تعلیم څخه نیولې تر اقتصاده، د ښځو حقوق، ټولنیز عدالت او ټکنالوژی پورې موږ ډیر شاته پاتې ټولنه لرو .ما زموږ ټولنه او زموږ دود او کلتور وڅیړل زموږ ډیری دودونه ناوړه دي .مثلا تربګنت، ولور آخیستل، د کونډو ښځو ودول، ښځو ته د میراث نه ورکول، له ښځو او انجونو سره توپیري چلند کول، ځنو دندو ته په بد نظر کتل او ډیر نور ناوړه دودونه .دا دودونه موږ له پرمختګ تعلیم او ټولنیز عدالت څخه لرې ساتي او باید دا ټول غلط دودنه بدل او یا آپډیټ شي تر څو موږ یوه سیاله او پرمخته تللې ټولنه ولرو .او دا ټولنیز پرمختګ په څیړنو، تعلیم تعلیم او بیا هم تعلیم سره رامنځته کیږي.











